# کمپیوټر څه شی دی؟

کتاب نوم: کمپیوټر څه شی دی؟.

لیکونکی: طاقت(ایوبی)

لیک نیټه: ۷/۱۲/۱۳۹۸

کره کتونکی: نظیف الله(شاداب)

دغه کتاب د هغه چا لپاره چی غواړی پوه شی چی (کمپیوټر څه شی دی؟) او هغه له څه شی جوړ او څنګه جوړ شوی او همداراز په دی کی هغه معلومات او ژوندی مثالونه هم شته دی چی د عامو خلکو چی له سواده یوه اندازه لیری هم اوسی عقل پری کار کوی او هغه کولای شی چی له دی مثالونو او عبارت څخه استفاده وکړی.

دا چی نړی او عصر په کمپیوټر ولاړ دی او باید هرڅوک ددی نړیوال ماشین په اړه معلومات ولری نو په همدی موخه دغه ساده کتاب په پښتو ژبه لیکل شوی دی.

***ستاسی د ښی مطالعی او د ښی زده کړی او پرمختګ په هیله.***

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د کمپیوټر اړوند ابتدایی ساده معلومات په پښتو ژبه کی...

**کمپیوټر:** یو برقی ماشین دی چی د ډیر وخت کار په کم او لنډ وخت کی کوی.

**۲:** کمپوټر یو برقی ماشین دی چی منطقوی او ریاضیکی عملیی ترسره کوی.

**۳:** کمپوټر د هارډویر او سافټویر مجموعه ده چی په برق باندی کار کوی.

**ډیټا څه ته وایی؟**

**ډیټا:** ټول هغه څه چی غواړو کمپوټر ته یی داخلول غواړو ډیټا بلل کیږی **لکه:** لیکنی، عکسونه، او نور...

**۲:** ټول غیر معنی لرونکی شیان عبارت دی له ډیټا څخه.

**معلومات څه شی ته وایی؟**

**معلومات:** د ډیټا معنی لرونکی شکل عبارت له معلومات څخه دی.

**۲:** دکمپیوټر ټولی معنی لرونکی نتیجی د معلومات په نامه یادیږی.

**د ډیټا او معلومات ترمنځ فرق څه شی دی؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱:** ډیټا ورکړیز یا این پوټ ده او معلومات اوټ پټ یا راکړیز.**۲:** ډیټا غیر معنی یا ان میننګ فل لیکن معلومات میننګ فل یا  معنی لرونکی ده.

**اونور فرقونه هم درلودلی شی.**

**اوس راځو چی کمپوټر له څه شی څخه جوړ شوی دی؟ د کمپیوټر جوړښت:** کمپیوټر له دوو عمده برخو څخه جوړ دی.

**۱:** سافټویر یا پوستغالی:

دا دکمپیوټر هغه برخه ده چی په سترګو ولیدل  شی خو په لاس لمس نه شی.

**«: سافټویر:** دکمپیوټر ټول پروګرامونه عبارت له سافټویر څخه  دی.

**لکه: ګیمونه، لیکنی، عکسونه اوټول هغه څه چی په سکرین  یی ګورو.**

**۲:** هارډویر یا سختغالی:

دا دکمپوټر هغه برخه ده چی هم په سترګو ولیدل شی او هم  لمس شی.

**«:** دکمپوټر هغه برخه چی سافټویر په کار اچوی د هارډویر په  نامه سره یادیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لکه : کیبورډ(لیکدړه)، موس، او نوری برخی.**

**سافټویر برخی هم لری که نه او لړکه چیرته ساده شی؟**

هوولی نه!! سافټویر خپله ټول پروګرامونه دی لکه ګیمونه ، ویندوز، افیس او نور.

**دسافټویر ډولونه:**

**۱: اپلکیشن سافټویر.**

**۲: سیستم سافټویر.**

**۳: پروګرامینګ سافټویر.**

**هارډویر څو برخی لری؟**

**۱: ورکړیز:** دهارډویر هغه برخه ده چی پواسطه یی کمپیوټر ته مختلف لمړنی معلومات داخلولی شو.

**۲: پروسیسنګ:** د کمپوټر د هارډویر هغه برخه ده چی ډیټا په معلوماتو بدلوی.

**۳: سټوریج یا حافظه:** هغه برخه ده چی پواسطه یی کولی شو په کمپیوټر کی ځان سره پروګرام، ویډیو، آډیو، عکسونه او نور وساتو.

**۴: اوټ پټ یا راکړیز:** هغه برخه د هارډویر ده چی پواسطه یی معلومات د کمپیوټر څخه خارجولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کمپیوټر عناصر:**

**اول:** سافټویر. مخکی مو تعریف او ولوست.

**دوهم:** هارډویر. داموهم مخکی لوستونو کی یاد کړی وو.

**دریم:** خلک یا استعمالونکی: هر هغه څوک چی کمپیوټر استعمالوی د یوزر یا استعمالونکی په نامه یادیږی.

**څلورم:** تولیدونکی: دا په دی معنی چی دموادو او معلوماتو تولید او پروسیس د یو کمپیوټر مهم عنصراو برخه ده.

**پنځم:** ډیټا او معلومات : چی دا مو هم مخکی لوستی دی.

**شپږم:** ارتباط: دا په دی معنی چی د یوزر استعمالونکی او ماشین چی کمپیوټر دی یوه اړیکه عبارت له ارتباط څخه دی.

**نوټ : کله مو چی کمپیوټر د هغه برخی او دهغی اړوند نور معلومات ترلاسه او آگاهی مو پری پیدا کړه نو اوس غواړو ددغه**

**ماشین په اړه داسی معلومات چی آیا دا ماشین همداسی یو دانه دی که نه سره بیل بیل فرق او هم لوی او غټ پکی شته دی.**

**اول: کمپیوټر د سایز او شکل له مخی:**

**۱ : سوپر کمپیوټر:** دا هغه کمپیوټر دی چی لوړ سرعت،بیه او غټ کارونه کوی.

**استعمال:** په پوځی چارو کی،غټو کمپنیو کی او همداسی نور بیچلی کارونه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځانګړتیا:** د مایکرو کمپوټر څخه پنځوس زره ځلی تیز دی.

**بیه:** له ۵-----۲۰ میلیونه ډالرو پوری.

**۲: ماین فرم:** دا کمپیوټر د سوپر په نسبت کم سرعت،قیمت، او کم کار کوی.

**استعمال:** د تیلو په استخراج،دهوا دحالاتو معلومول او نورو کی استعمالیږی.

**ځانګړتیا:** دلمړی ځل لپاره دا کمپیوټر د )ای بی ایم(کمپنی له خوا وړاندی شو.

**بیه:** له ۱۰۰-----۱۰۰۰۰ ګونو ډالرو پوری.

**۳: مینی:** دا هغه کمپیوټر دی چی د مین فرم په نسبت کم قیمت،سرعت او کار کوی.

**استعمال:** په وړو تجارتونو کی.

**۴: مایکرو:** دا هغه کمپیوټر دی چی په قیمت ارزانه،کم سرعت،او وړوکی سایز لری.

**استعمال:** په وړو دفترونوکی،محاسباتولپاره،او نور شخصی واړه او کوچنی کارونه کوی.

**کمپیوټر د جوړښت له مخی:**

**اول: آنالوګ:** دا هغه کمپیوټر دی چی ډیټا نه زخیره کوی،اندازه ښایی،پروسیس او عملیه نه اجرا کوی. لکه : دیوالی ساعت او نور مثالونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم: ډيجيټل:** دا هغه کمپيوټرونه دی چی ډيټا پروسيس کوی او د رياضيکی او منطقی عمليو د ترسره کولو لپاره استعماليږی.

**دريم: هايبريد:** دا هغه کمپيوټرونه دی چی د ډيجيټل او انالوګ څخه ډيری وړتياوی لری يعنی خپله هايبريد هم د ډيرو ګټو لرونکی معنی لری.

**دا چی مو کمپيوټر او دهغی اړوند معلومات ترلاسه کړل نو اوس غواړو چی وينډوز وپيژنو!**

**ويندوز څه شی دی؟**

**ويندوز:** د ويندوګانو مجموعه ده او دا يو ډيسک ټاپ اپليکشن دی چی د کمپيوټر لپاره استعماليږی.

نو ويلی شو چی ويندوز د کمپيوټر چلونکی پروګرام دی او لدی پرته د کمپيوټر استعمال د مخصوصو طريقو پرته سخت دی.

**نوټ:** دا چی مونږه کمپيوټر د هغی برخی د هغی ډولونه دهغی دندی او ويندوز او نور معلومات ترلاسه کړل او غواړو چی ووايو چی مونږ کمپيوټر کی ليکنه د څه شی پواسطه او هغه ليکنه خوځولی يعنی انتقالولی څنګه شو دا ټول بايد په ياد ولرو!!!!!

**اول: کيبورډ:** کيبورډ دکمپيوټر يو له مهمو برخو څخه ده چی دهغی په واسطه کولای شو په کمپيوټر کی د ليکنی سره سره نور څه هم وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲:** کیبورډ : د حروفو،نمبرونو،سمبولونو،او کوډونو مجموعه ده.

**د کیبورډ برخی ولیکئ؟**

کیبورډ د بټنو له مخی لاندی برخی لری چی عبارت دی له**!**

۱: **فنکشن بټن:** دابټنی د مختلفو کوډونو تر عنوان لاندی د کمپیوټر په کیبورډ کی کار کوی چی عبارت دی له**!**

*(f1-------------f12)*

**۲: الپابیټ بټن:** دا بټنی دالفاظو د لیکلو لپاره استعمالیږی چی عبارت دی له**!**

*(A----------------Z)*

**۳: کرسر کنترول بټن:** دا هغه بټنی دی چی د انتقال لپاره کارول کیږی چی عبارت دی له**!**

(Up, Down, right and left)

**۴: نمیرک بټن:** دا بټنی د نمبرونو د لیکلو لپاره استعمالیږی چی عبارت دی له**!!**

(1--------------------------9)

**۵: سپیشل فنکشن بټن:** دا هغه بټنی دی چی د مختلفو موخو لپاره کاریږی چی عبارت دی له**!!**

***(***Alt, Shift, control, enter, and ETC...)

**اوس هم لولو د کمپیوټر بله مهمه برخه چی هغه موس یا موږک نومیږی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**موس:** موس د کمپیوټر یوه اېن پوټ هارډوېر برخه ده چې
پواسطه  یې په سکرین کې یا په کمپیوټر کې دری دندې
ترسره کولی شو.

**اول:** د ډیټا په اړه معلومات ترلاسه کول چې دا کار د ښی
کلیک په  واسطه کولی شو.

**دوهم:** دډیټا په اړه سلیکټ او یا هم د مشخصی ډیټا په نښه
کولو  لپاره استعمالیږی.

**دریيم:** په سکرین کی د پرتی ډیټا ښکته او پورته وړلو
لپاره  استعمالیږی چې دا کار هم د وییل بټن په واسطه
کولی شو.

**کنټرول پاینل څه شی دی؟**

کنټرول پاینل د کمپیوټر د دننه یعنی سافټویر  هغه مهمه برخه
ده چې
پواسطه یی کولی شو د کمپیوټر ټول تنظیمات یا سټینګ جوړ
او منظم  کړو.

ددی پواسطه کولی شو په کمپیوټر کی ساعت، ژبه، تاریخ،
سکرین، رڼا، او په کمپیوټر کی دننه نور ټول تنظمیمات د
همدی برخی په  واسطه جوړ کړو.

**پاسورډ یا کوډ څه شی دی او فایدی یی څه شی دی چی**
**خلک یی  خپلو کمپیوټرونو ته ورکوی؟**

دا مهمه موضوع ده هغه ځکه چی که مونږ اوتاسو یو ساده
مثال ورکړو چی هره راډیو او تلویزیون چی مونږ او تاسی یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورو نو دا په اصل کی په داسی شکل دی چی شبکه
جوړونکی د خپرونو د خپرولو لپاره ځای ټاکلی مواد یی برابر
کړی اوهم یی د انتشار لپاره چمتوکړی دی نو دا ټول یی په یوه
نقطه کی راټول کړی دی چی بیا یی دغه نقطه په یوه نوم یاده
کړی ده مثلا دومره اعشاریه دومره اف ایم نو بیا یی دغه نقطه
پاس هوا ته خیژولی او هلته یی په یوه فزیکی قوه ودرولی ده
او هغی ته یی داسی دستګاه ایښی ده چی په هواکی خپره شی
نو کله چی مونږ او تاسی په خپله راډیو او تلویزیون کی لټون
یا سرچینګ کوو نو مونږ ته دغه نقطه پیدا کوی هغه ځکه چی
د هغی دستګاه پواسطه چی یی په هوا کی دغه نقطه خپره کړی
ده نو بیا دغه نقط څپی هغه خوا او دغه خوا وړی راوړی او
بیا نو دغه نقطه مونږ د کمپیوټر،مبایل،راډیو،تلویزیون او
نورو پواسطه پیدا
کوو او هغه مواد چی په دغه نقطه کی جمع دی هغه مونږ
او تاسی ګورو.

نو دغه وړه نقطه چی یوه شبکه یی خپل ځان ته غوره
کوی دغه نقطه خپله یو **پاسورډ** کیدلی شی.

**پاسورډ:** یوه لویه برخه په یوه وړه نقطه کی چی هر څوک یی
نشی خلاصولی د پاسورډ په نامه یادیږی.

**کمپیوټری پاسورډ:** دا هغه پاسورډ دی چی پواسطه یی لکه مو
چی
مخکی وویلی د ټول کمپیوټر او په هغی کی پرته ډیټا په یوه
نقطه کی راټولول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کمپیوټری پاسورډ په مختلفو ډولونو سره دی!!!**

اومونږ دغه پاسورډونه کنټرول پاینل کی د استعمالونکی حساب یا د یوزر اکاونټ په واسطه ورکولی شو.

**۱: اډماین پاسورډ:** دا هغه پاسورډ دی چی دکمپیوټر ټول واک او اختیار له همدی پاسورډ سره دی او نور ټول پاسورډونه د همدی تر واک لاندی کار کوی.

**۲: لیمټ پاسورډ:** د هغه پاسورډ دی چی محدود دی او په یوه اندازه واک او اختیار لری نه چی ټول واک.

**۳: ګسټ یا میلمه اکاونټ:** دا هغه پاسورډ دی چی د اول د اډماین او بیا د لیمټ تر واک لاندی کار کوی.

**«« آفیس څه شی دی ؟**

د یو څو محدودو پروګرامونو لرونکی آپلکیشن چی د کمپیوټر لپاره ډیر مهم دی چی د مایکرو سافټ کمپنیۍ له خوا جوړ شوی دی.

دا پروګرام د مختلفو پروګرامونو درلودونکی دی:

۱: مایکرو سافټ ورډ.

۲: مایکرو سافټ اکسل.

۳: مایکرو سافټ پاور پاینټ.

۴: مایکرو سافټ اکسیس.

او په مختلوفو اپلیکشینو کی مختلف پروګرامونه.

**کمپیوټری ژبی یعنی څه؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې کمپیوټر مختلف کارونه کوی او مختلفو موخو لپاره
ترې
استفاده کیږی نو کمپیوتر لپاره داسی پروګرامونه هم جوړ
شوی دی  چې ژبه ورته وایی.

دغه ژبې کولی شی مختلف پروګرامونه په خپل ځان کې د
یوزر په  واسطه جوړ کړی.

دا ژبې مختلف نومونه لری:
*C, C++, C#, Java, Payten* او نوری مختلفی ژبې دی.

**کله چې مونږ کمپیوټر ساینس پوهنځی لولو نو په دی کې څو  څانګې دی؟**

البته په دی کې مختلفی برخې دی چې مختلفو موخو لپاره
ترې کار  اخیستل کیږی.

لکه: سافټویر، تکنالوژي معلوماتی، ډیټا بیس اونور....

**شبکه یا نیت ورک څه ته وایی؟**

د یو څو ماشینونو یا یو څو آلو د یوځای والی وروسته چې
یوی موخې لپاره کار کوی عبارت له شبکلې یا نیټ ورک
څخه دی نو بیا مونږ او تاسی کولی شو چې ډیر مشهور او
مهم مثال یې چې هر  څوک یې پیژنی ورکړو چې هغه
انټرنیټ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنی انټرنیټ خپله هم یوه شبکه ده خو دا چې شبکې مختلف دولونه لری نو انټرنیټ یوه نړیواله او درنه شبکه ده چې هغه بیا خپله ځان کی هم ځو ځو ځانګی لری.

دغه لیکنه: ۷/۱۲/۱۳۹۸ .....تاریخ.... ورځ: سه شنبه.



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**